PROPERTY OF ACKU

هفته نامه

اتحاد اسلامی

بیانگرآرمان اتحاد اسلامي افغانستان

پرلــه پســي ګڼه « ۲۲۸ » اوم کال « ۳۰ » ګڼه دوشنبه د ۱۳۷۰ هـ . ش کال د میزان « ۲۹ » د ۱۴۱۲ هـ . ق کال دربیع الثانی «۱۳» او د۱۹۹۱ میلادي کال د اکتوبر « ۲۱ »

دافغانستان دآینده حکومت په هکله له روسانوسره خبري که هغوي دکابل دررژیم وصایت کوی اوکه روسی اصالت په دواړو صورتونو کښي شرعاً ، عقلاً اوسیاستاً مر دودي دي

دافغانستان داسلامی اتحاد امیر محترم پوهاند سیاف له روسانو سره دنه کتلو په باب وویل :

داچي مونږله روسانو سره ولی نه ګورو،ډیرواضح دلیل یې دادی چه اوسني خبرې دافغانستان دآینده نظام اوعبوری اداري په هکله کیږي اوروسان چه له مجاهدینوسره کښنی د دوی پوزیشن له دوو صورتونو خالي ندی .

۱- یابه دکابل د رژیم دوصی اووکیل په صفت له مجاهدینوسره ګوري .

۲- یابه دخپل ځوا دروس دحکومت په صفت ورسره وګوري .

اوپه اوسني مرحله کښي په دواړوصورتو کښي دهغوی سره خبري شرعاً ، عقلاً ، منطقاً اوسیاستاً مردودی دي ځکه چه په اول صورت کښي خومجاهدین په غیر مستقیم ډول دکابل رژیم سره روغه کوی اوهغوی سره مذاکره شروع کوی اوحال داچه دا وار په وارپه اتفاق سره رد شوی وه .

اوپه دویم صورت کښي چه روسان دروسانو په حیث دمجاهدینو سره خبری کوی پدی حال کی به روسانوته داحق ورکول کیږی چه دافغانستان د آینده په باب تصمیم نیولوکښي شریك واوسی اوددغه مجاهد ولس په کورنیو چاروکښي دمداخلي حق ولری که افغانان اسلاماً داکار منلای شی نو دوی داجنګ دځه دپاره کړی دی او دآزادی چیغه ولي جګوی ځکه چه داناسته په داسی مجلس کښي چه هلته دي روسان زمونږ دهیواد دآینده په باب خبري وکړي داد غلامی یوه نوی پرده ده چه ددي مجاهد ولس په مخ اواړیږي .

اوکه څوك دا ادعا لري چه روسانو سره دافغانستان دآینده نظام اواداري په باب خبري نکیږي بلکه ددواړو هیوادونو دآینده روابطو په باب خبري کیږي .

داهسي ځان غلطول دی او دمنلو خبره نده .

ځکه چه روسان تراوسه پوري دکابل حکومت په رسمیت پیژنی دهغوی مرسته کوی او ترا‌ړخه یې ولاړدی ،که ددولتینو دمتقابله مسألو په باب خبري دی نو هغوی سره یې کوی - نه دمجاهدینوسره . خوکه چیري ځني خلك پدي مطلب اصرار لري چه روسان له مونږ سره د دواړو هیوادونو د آینده علایقوپه باب اودجنګ دخساروپه باب خبري کوی - داخوهلته کیدای شی چه دمجاهدینو په حکومت دروسانوځوا اعتراف وشي اوبیا مجاهدین دخپل وطن دممثلینو په حیث خبري وکړی - نو اشتراك کوونکو ته دا لاژمه ده چه پخوا له ناستي شرط کیږدی چه روسان دي مونږپه رسمیت وپیژني اودکابل نظام سره دي علایق قطع کړی بیابه خبري ورسره وکړو .

داهغه وجوهات دي چه مونږ دروسانوسره خبروته نه کښینو اوبله وجهه یی هم داده چه په تاریخ کښي چاداندی اوریدلی چه یوچا ظلم اوتیری کړی وی اوبیابي ماتي خوړلي وي او مظلومان راپورته شی دماتي خوړلی ظالم کورته په ننواتی ورشي .

زمونږمشوره ټولو اسلامی هیوادونو اوبالخاصه خپلوګاونډیوته داده چه دخپلومجاهدو ورونو تراړخه په کلکه ودریږی اودبین المللی دسایسو په مخنیوی کښي ددي جهاد دمخلصو بچیانوملاترو‌کړی - اودجهاد داصلی مقاصدو دترسره کیدو حمایت وکړی اوپدي خبره ځان ښه پوه کړی چه که مجاهدین دیوه اسلامی سوچه نظام په قایمیدوکښي پاتي راغلل اوخدای دي نکړی دبین المللی دسایسو په وړاندی یې ماتي وخوړه - نودابه یوازي دمجاهدینو ماتي نه وي بلکه - دابه ددي جهاد د دوستانو ماتي هم وی اوترخه نتایج به یې یوازي دمجاهدینو خوله ته یې خوندوه کوی .

نوبیا بیا داغږ مونږ پورته کوو اووایوچه مسلمانان اوبالخاصه زمونږګاونډیان دمجاهدینو ترڅنګ داسلام دبین المللی دښمنانوپه خلاف کلك ودریږی - اودمجاهدینو په لاس دمجاهدینو له مینځه حکومت به په اوس اوآینده کښی زمونږ دګاونډیو دوستانو دعزت ، حریت ، امن اواستقرار دپاره لوی سند اولوی ملاتړ وی .

اوداچه هندوان کوشش کوی چه دمجاهدینو دحکومت دجوړیدو مخه ونیسی داپه خپله واضح دلیل دی چه دمجاهدینو راتلونکی حکومت به منطقه کښي دمسلمانانو په خلاف دهرتیری کوونکی عزایم دصفر درجی ته راکوزوی .

میدان هوائي کابل زیر آتش راکتی مجاهدین قرارگرفت

میدان هوائي خواجه رواش در حومه، کابل و پوسته ها و قرارگاه هاي رژیم در جنوب شرق این شهر ، بروزهاي ۱۵ و ۱۶ اکتوبر تحت اتش راکتي مجاهدین قرارگرفت .

یك منبع خبري از ولایت کابل گزارش میدهد که بتاریخ ۱۶ اکتوبر میدان هوائي خواجه رواش در حومه، شمال شرق کابل ازساعت ۹ صبح تا ۳ بعد ازظهر تحت آتش راکتي مجاهدین قرارگرفته که طي این مدت میدان بروي پرواز طیارات مسدود بوده است .

راپور مي افزاید ، بتاریخ ۱۶ و۱۵ اکتوبر پوسته ها و قرارگاه هاي رژیم در مناطق خروتي ، دورانخیل و همچنان پوسته هاي زندان ، ملنګ وبند غازي منطقه، چکري هدف حملات راکتي دوامدار مجاهدین قرارگرفت .

راپور حاکیست در قرارگاه خروتي یك دستگاه و در دوران خیل دو دستگاه

په ګردیز کښي دکابل رژیم کلابند شویو پوځیانو،اولسي خلکوته مجاهدینو یوځل بیا دعفوی اعلان وکړ

د (میډیا) لیږل شوی خبریال چی د ګردیز څخه پیښورته راستون شوی ریوټ ورکوی چی په پکتیا ولایت کي د مجاهدینو د قوماندانانو نظامی شوری پدي ورروستیو ورځو کي د یوي اعلامیي په ترځ کي د رژیم پلویانوته چي د ملحد رژیم سره خپله رابطه پریږدی اود مجاهدینو په صف کي ودریږي اود مقاومت څخه لاس واخلی دهغوی سر اومال ته به هیڅ تاوان ونه رسیږی او دهغوی عزت او آبرو به خوندي وي .

اعلامیه زیاتوی که په خوست کي چاته کوم مالی تاوان رسیدلی دهغوی خپله ګناه ده ځکه چی دوی د جګړي ترمخه خپله تسلیمی اوهمکاری ونه ښوده .

اعلامیه غوښتنه کوی ترڅو د ګردیز کلابند شوی پوځیان اودرژیم پلوی خلك دوخت نه په ګټې اخیستلو سره زرترزره تصمیم ونیسی اوعملی اقدام وکړی چی په هغه صورت کښي به د دوی ځان ، مال اوعزت خوندي وي

٢٤ نفر ازملیشه های رژیم در هرات به هلاکت رسیدند

نمایندگي (میدیا) ازکویته گزارش میدهد مجاهدین به روز هاي ۱۵ - ۱۶ و ۱۷ اکتوبر مواضع رژیم کمونیستي کابل در منطقه، قلعه نو وقلعه ملیکي ولایت هرات عملیات انجام دادند که درنتیجه ۷ پوسته تخریب ۱۶ تن ازملیشه هاي رژیم به هلاکت رسیده وعده، دیگر زخمي گردیدند .

طبق راپور درین عملیات سه روزه دوعراده تانك محاربوي نیز حریق شده است .

اطلاع مي افزاید درجریان این برخورد ها مجاهدین نیز یك تن شهید وسه تن مجروح داشته اند .

به اساس یك گزارش دیگر مجاهدین بتاریخ ۱۸ اکتوبر با سلاح

اسرائیل با شرکت در کنفرانس صلح شرق میانه موافقه کرده است

بي . بي . سي ۲۸ میزان

اسرائیل با شرکت در کنفرانس صلح شرق میانه که طبق برنامه قراراست در پایان ماه جاري در مادرید تشکیل شود موافقت کرده است .

آخرین گزارش ها حاکیست که کابینه اسرائیل با اکثریت بزرگي بدعوت هفته گذشته امریکا و شوروي درین باره رایي موافق داده است .

درین ضمن در جهان عرب براي هماهنگ کردن ستراتیژي در قبال کنفرانس صلح شرق میانه اقدامات برهبري سوریه شروع شده است .

سوریه امیدوار است که پیش از آغاز گفتگوهاي اعراب و اسرائیل در مادرید اجلاس به شرکت رهبران منطقه تشکیل دهد .

اسد رئیس جمهور سوریه بار دیگر گفته است که هرتوافق صلح در شرق میانه بعد از برپائي خروج اسرائیل از سرزمین هاي اشغالي و برسمیت شناختن حقوق فلسطینیان مبتني باشد .

وي این سخنان را بعد از دیدار با یاسر عرفات رهبر سازمان ازادي بخش فلسطین در دمشق بیان داشت .

عرفات از دمشق راهي اردن مي شود که بعداً اردن و فلسطین یك هیأت مشترك روانه کنفرانس صلح میکند .

مجاهدینو د جلال آباد کابل په لویه لاره دړژیم یوه ستراتیژیکه پوسته فتح اود اوراګان یوه دستګاه یې د اورلمبه کړیده

په پیښورکي یو جهادي خبر ځاي دننګرهار ولایت دتورغرنه میهیا ته ریوټ ورکړي چي مجاهدینو دکمونیست رژیم په قواؤ باندي دلیري ویشتونکو توغندیو نه په استفادي سره داکتوبر په (۱۵) مه نیټه مازدیګر دجګړي په ځلورمه ورځ دسروبي په تنګي کي دجلال آباد - کابل په لویه لاره پوره کنټرول حاصل

مجاهدین دو پوسته، امنیتی ملیشه های رژیم کابل رادرولسوالي دوشی ولایت بغلان فتح نمودند

به اساس گزارش آژانس خبري میدیا مجاهدین بتاریخ ۱۱ اکتوبر بالاي پوسته هاي امنیتي سرك عمومي کابل - حیرتان درولسوالي خنجان ولایت بغلان حمله تعرضي نمودند که درنتیجه دوپوسته رژیم فتح (٥) ملیشه کشته (۳۹) نفر شان زخمي د ٤ تن دیگر با ۱۲ میل کلاشینکوف ویك میل راکت وسط اسیر گردیدند .

طبق خبر درین عملیات به مجاهدین تلفات نه رسیده ولي ملیشه هاي رژیم کمونیست جهت انتقام ازمجاهدین خانه هاي مردم بي دفاع را حریق نموده ویك تعداد زنان وریش سفیدان را شهید وزنداني نموده اند .

خبر مي افزاید ۳۰۰ تن ازاهالي

دجلال آباد دیوولسمي فرقی زیاته برخه دمجاهدینو ترکنترول لاندی ده

دننګرهار ولایت څخه دارسیدلي خبر پر اساس مجاهدینو په ګردي کڅ کي دمزدور رژیم په پوستو باندي دخپلو کفر ځپونکو بریدونو په نتیجه کي ددښمن ځلور پوستي فتح کړي دي همدا راز دشمر خیلو په (۱۱) فرقه دمجاهدینو بریدونه په شدت سره دوام لري چي دنوموړي فرقې له نیم نه زیاته برخه دمجاهدینو په لاس فتحه اوپه هغه کي دري عرادي ټانکونه اویوه دمهماتو ډیپو داورلمبه شوي دي اوهم دمزدور رژیم یوه جټ الوتکه رانسکوره شوي ده په خبر کي ویل شوي دي چي په دغو عملیاتو کي دوه تنه مجاهدین هم ټپیان شوي دي .

د مصراخوان المسلمین د منځنی ختیځ د ستونځی د حل کنفرانس د فلسطینیانو پلورل وګڼل

دمصر اخوان المسلمین ګوند دجمعي په ورځ په یوه وینا کي دمنځني ختیځ دمسئلي دحلولو په باب دکنفرانس جوړیدل دفلسطینیانو پلورل وګڼل اواصلي مالکانو ته بي دبیت المقدس دبیرته اعادي دواځني حل لاري په توګه دجهاد غوښتنه وکړه دمصر اخوان المسلمین ګوند دمصر دجمهور رئیس حسني مبارك په شمول دعربو هغه مشران چي دمنځني ختیځ کنفرانس کښي دګډون اراده لري جنایتکار وبلل او دفلسطین دآزادي بښونکي سازمان رئیس یې متهم کړ چي هم یې دفلسطین آرمان اوهم یې مسجد اقصي خرڅ کړي دي .

یك پوسته، رژیم کابل در ولایت بلخ فتح گردید

به اساس گزارش آژانس خبري میدیا ازولایت بلخ مجاهدین بتاریخ ۱۵ اکتوبر با استفاده ازسلاحهاي ثقیل برپوسته هاي امنیتي شهر مزارشریف مرکزآن ولایت حمله نمودند که درنتیجه یك پوسته بنام قوصان حاجي صفدر فتح ، تعدادي از عساکر وملیشه هلاك و ٥ تن دیگر اسیر گردیدند .

راپور مي افزاید مجاهدین درین برخورد یك میل گرینوف و(٥) میل کلاشینکوف را با تعدادي ازمهمات ومواد خوراکي به غنیمت گرفته اند .

د کابل رژیم د ادعا خلاف ، د کابل جلال آباد لویه لاره د مجاهدینو لخوا لاتر اوسه بنده ده

په پیښور کي دننګرهار ولایتي نمایندګي دجلال آباد کابل په لویه لاره دځاي په ځاي شویو مجاهدینو او قوماندانانو دریوټونو په حواله واني چي دکابل رژیم ددي ادعا خلاف چي ګني دغه لاره خلاصه ده وویل دکابل - جلال آباد لویه لاره چي دځلورو ورځو راپدي خوا دمجاهدینو لخوا بنده شوي لاتراوسه دټرافیکو پرمخ بنده ده دیوبل خبر له مخي داکتوبر په (١٦) نیټه دمجاهدینو یو قوماندان دسروبي په ولسوالي کي دبیلي اولکی پوستوباندي دبرید په وخت ټپي شویدي .

دریوټ مطابق ، مجاهدین اوس دلغمان ولایت دعزیزخان کڅ دسیمي څخه ترسروبي ولسوالي او لته بند کي

مجاهدینو د پکتیا او لوګر په ولایتونو کی د کابل د کمونیست رژیم یوه پوسته فتح اودمهماتو یوه ډیپوئی له مینځه یو وړه

د مجاهدینو یو جهادی خبرځای دلوګر له ولایت نه ریوټ ورکړیدی چی مجاهدینو د اکتوبر په (١٤) نیټه ددغه ولایت پرمرکز پل علم اوشاوخوا امنیتی پوستو د درندو وسلو ډزی وکړی چی دهغې په اثر د کابل ملحد رژیم له قواو ځخه یوشمیر عسکر اوملیشه مړه ،دهغوی یوشمیر کلك سنګرونه ویجاړ اودوه عرادی پوځی لاری د اور لمبه شویدی .

ریوټ زیاتوی چی د مجاهدینو دډزو په نتیجه کي په لوګرکي د آغا محمد په نامه پوسته کی دوسلو یوه ډیپو سوزیدلی او یوشمیر ملیشه وژل شوی دي .

د خبرمطابق پدغه ولایت کي ددواړو خواوترمنځ جګړه په سختۍ سره دوام لري .

دغه راز د پکتیا له ولایت نه ریوټ ورکړشوی چي مجاهدینو د اکتوبر په (۱۳) نیټه د سید کرم ولسوالی پوري مربوط د (یحی خیلو) په سیمه کی د رژیم پرپوستو برید وکړ چي دهغې په اثر د ملحد رژیم له قواو څخه یوه پوسته فتح ، یوشمیر عسکر او ملیشه مړه اوهم مجاهدینو درژیم له قواونه زیاته اندازه وسلي اومهمات ولجه کړی دي .

دو تن ازمنسوبین کمونیست رژیم کابل درنواحی شهرکابل به هلاکت رسیدند

محمد قسیم منشي سازمان اولیه، حزبي و حبیب الله آمر جنائي علاقداري گلدره، ولسوالي شکردره در حمله، مجاهدین کشته و معلم واحد علاقه دار با دگرمن گلاجان با افراد مربوطه، ان اسیر شده اند .

مجاهدین در حمله برتاسیسات نظامي رژیم در اطراف ولسوالي شکردره و علاقه داري گلدره که در (۲) کیلومتري شمال شرق کوتل خیرخانه موقعیت دارد ، محمد قسیم منشي سازمان اولیه و حبیب الله آمر جنائي آن علاقه داري رابایك تن ازهمراهان شان به هلاکت رسانیدند .

راپور حاکیست ، معلم واحد علاقه دار گلدره ودگرمن گلاجان آمر امنیت آن علاقه داري با افراد مربوطه که تعداد آنان معلوم نیست به اسارت مجاهدین درآمده اند که هم اکنون تحت تحقیق قراردارند .

تظاهرات وسیع مسلمانان در نایجریا

هزاران تن ازمسلمانان نایجیریا دراعتراض به فعالیت یك مبلغ مسیحي تظاهرات وسیعي را درشهر کانو درشمال نایجیریا براه انداختند .

بگزارش روزنامه پاکستان تظاهرکنندگان که نعره هاي « الله اکبر » سرداده بودند چندین موتر ودوکان را آتش زده وخواستار متوقف شدن فعالیت هاي مبلغین مسیحي شدند گفته میشود که یك اداره مسیحي یك پروگرام پنج روزه را ترتیب نموده وقرار بود که یك مسیحي جرمن نژاد درآن سخنراني نماید .

مجاهدینو د کمونیست رژیم (٦) عرادی ټانکونه،د مهماتو ځلور لاري اوداوراګان توغوندیو یوه ډیپو له منځه وړي ده

مجاهدینو په ګډه سره دکابل ښار په لر ختیزه دکابل رژیم ددریم امنیتي کمربند دقواؤ په مرکزونو باندي داکتوبر په (۱۷-۱۸) نیټو پرلپسي بریدونه وکړل چي په نتیجه کښي دکابل - جلال آباد په لویه لاره دسروبي ولسوالي په بازارکښي دکمونیستي قواؤ ٦ عرادي ټانکونه اوځلور دمهماتو ولاړي لاري داور لمبه شوي اوهم داوراګان یوه ډیپو تباه شویده .

خبر ځاي دارتباطي وسیلو په حواله وویل چي پدي ډیپو کښي دکمونیست رژیم داوراګان توغندي(٤٠٠٠)

تاوقتیکه رژیم کابل برسرقدرت باقیست مذاکره با روسها مفهومی ندارد . پوهاند « سیاف »

هفته‌نامه
اتحاداسلامی
بیانگر آرمان اتحاد اسلامی افغانستان
د امتیاز خاوند : د افغانستان اسلامی اتحاد
د تأسیس نیټه : ۱۳٦٤ کال د عقرب میاشت
خپرونکې اداره : د دعوت وارشاد فرهنگي څانگه

سرمقاله

آغازمیکنم به نام خداوند بخشاینده ومهربان

آیا نشست باروسها امتیازي به مجاهدین خواهد بخشید ؟!

استکبار جهاني ودرراس آن صهیونیزم ومسیحیت بعد از سپري کردن دوره سیاه ازظلم واستبداد ، قتل وکشتار به این نتیجه رسیده اند که اکنون دربرابر آنها تنها یك قدرت ونیرو که عبارت ازاسلام وپیروان مخلص آنند باقیمانده است ، واین نیرو درطول تاریخ من حیث یگانه مانع وخارچشم دربرابر اهداف ومطامع شوم آنها قد علم نموده ، وهمواره جلوخود کامه گي وتوسعه طلبي وسود جوئي آنها را گرفته است .

شکي نیست که کفر جهاني دربرابر اسلام واهداف مقدس وپاك آن صف واحدي را تشکیل داده اند ، وازهرگونه وسایل ضد انساني براي درهم کوبیدن این آئین کارگرفته و اهداف پاك وبي آلایش آنرا درانظار جهانیان معکوس وواژگونه جلوه داده اند . آنها همینکه فرصت را براي رسیدن به مقاصد شوم خویش مساعد یافتند ، بي درنگ به جان وآبرو مسلمانان در افتادند وبدون چون وچرا خونهاي شان ریختند ، ودار ومدار شان را به یغما بردند - چنانچه جنگهاي صلیبي تحت قیادت پاپ بقصد اشغال بیت المقدس گویان این واقعیت است .

درشرایط کنوني نیز بعد ازآنکه سقوط امپریالیزم روسي بدست دلیرمردان مسلمان افغانستان آغاز گردید، وطلسم قدرت روسي درهم شکست ، وغبار ذلت وافتضاح براي نخستین بار درجبین قدرتمندان بنشست ، ودین خداوند حقانیت ونیرومندي خود را به کفار کوردل ومنافقین دو روي به اثبات رسانید ، دشمنان قسم خورده، اسلام شیوه، جنگ ودشمني خودرا با آن عوض کردند، وبه اسلوب وطریقه هاي دیگري متوسل شدند تا ازان طریق بتوانند براهداف خود نایل گردند ، وجهاد اسلامي این ملت مؤمن راکه درشرف رسیدن به سرمنزل مقصود است به گرد میز مذاکره وراه حل هاي دیپلوماتیك بکشانند ، ودرنتیجه آن هدفي راکه نتوانستند درصحنه، کار زار ونبرد بدست آرند ، بتوانند ازلابلاي گفتگوها ونشست ها باهمي سیاسي بدست آرند .

بدون شك قیام مردم مسلمان افغانستان دربرابر کمونیست ها ، ازهمان روز اول روي انگیزه عقیده وایمان ، ورروي کار آوردن حکومت اسلامي درین کشورآغاز یافته است ، واینهمه قربانیها ورنجهائیکه تحمل آن برکوهساران دشوار افتد بخاطر آن بوده است که نظام کمونیزم را سرنگون سازند وبجاي آن حکومت عدل الهي راکه آرمان وخواسته، فرد فرد این ملت است روي کار سازند ، ولي روي همرفته یکعده کساني که خودرا درصف جهاد ومجاهدین قرارداده اند گاه وناگاه ازبلند گوهاي دشمن صداي شان بلند میشود ، و براي حل قضیه افغانستان ، آشتي ملي ، حکومت بیطرف ، حکومت مختلط وغیره اصطلاحات راکه ذره، رنگ اسلامي ندارد وازعدالت وانصاف بدور است پیشکش مینمایند، چنین اشخاص - برابراست که این حرفهارا ازروي فهم لبیك گویند ویاساده اندیشي خود چنین ابراز نظر نمایند - بدون شك درپیاده ساختن اهداف کفر واستعمار کمك مي کنند ، وهمراه با آنان درنادیده گرفتن وپایمال ساختن اهداف مجاهدین وآرمان جهاد سهم مي گیرند وشرکت مي نمایند .

ولي براي این عده، که بخاطر رسیدن به کرسي قدرت خواب برچشمان شان حرام گشته وشب وروز به فکر اعتلا برمسند قدرت سیاسي کشور اند خاطر نشان باید ساخت که دیگر آن عهد وزمانیکه بتوان ملت افغانستان را فریب داد وباتبلیغات دروغین آنها را ازپیگیري وادامه راه مبارزه شان بازداشت گذشته است ، واکنون مردوزن ، طفل وجوان ، این کشور چهره، کثیف وطنفروشان خائن ، وعناصر عیاش وجاه طلب راکه دردیار غرب پرورش یافته اند وازآن سوي کره، زمین سنگ وطندوستي را برسینه مي کوبند ، شناخته اند ، وبراي یك لحظه اجازه نخواهند داد که تربیت یافتگان غربي زمام امور کشور شان رابدست گیرند ، ودرمحافل بین المللي خود را وکیل ووصي عام وتام مردم این کشور بتراشند، شکست ابر قدرت روس درسالهاي اخیر، وتحولات و دگرگونیها عجیب وحیرت انگیزدرساحه، امپراطوري آن ، ابرقدرت ها را بران داشت تابراي نجات ازین معضله راه حل هاي سیاسي را بامجاهدین درمیان گذارند ، وازینطریق براي خود کسب آبرو وحیثیت نمایند ، لذا ازسه سال بدینسو فعالیت هاي گوناگوني درسطوح عالي درجریان بوده است تا بتوانند ازینطریق مجاهدین را بنام حل سیاسي درمیان خود به هم اندازند ، وگروهي را موافق ومیانه رو ، وعده، را مخالف وبنیاد گرا معرفي کنند ، وآنگاه ازطریق ایجاد اختلاف وتفرقه میان مجاهدین ، اهداف شان راکه عبارت ازقدرت بخشیدن به مزدوران روس وپایمال ساختن اهداف جهاد ومجاهدین است تحقق بخشند .

صح

علي احمد باكثیر ستاره، درخشان که درآسمان شعروادب طلوع نمود

تهیه ونگارش : عبدالحق « عتید »

شاید علت ظلم وجفاء که درحق ادیب نامور اسلامي علي أحمد باکثیر رواداشته شده ، ویا بعد ازمرگ وي خدمات او نادیده گرفته شده این بوده است که وي به مبادي اسلام سخت پابند بود ، وبراي اعلاي کلمة الله بي حد اصرارداشت ، چون دران وقت کساني باوي هم عصر بودند که ازبرافراشتن بیرق اسلام ویا ازمنسوب بودن به آن درنتیجه، اوضاع وشرایط موجود ، درخود احساس خجالت وشرمندگي مي کردند ، ودرعوض بابلند کردن بیرق هاي رنگارنگ که دروازه هاي مصالح ومنافع مادي را به رخ شان مي گشود درخود احساس افتخار وشخصیت مي نمودند .

باکثیردریافته بود که اصالت دیني ما رفته رفته ناپدید خواهد شد ، چون میدانست که اگر پینه هاي زیادي به جامه افزوده گردد بالاخره رنگ اصلي آن مبدل مي گردد ، وبراصالت اسلامي تاکید میگذاشت که باید به اشیاء به چشم عربیت نگریسته وبامیزان اسلام باید آنرا وزن کرد ، اگر چنین نشود اسلام ازما دور خواهد ماند ، وما چون جسد بدون روح خواهیم بود .

اوبار بار نصیحت مي کرد که نباید مجذوب هرچیز درخشنده گردیم زیرا بسا چیزهاي درخشنده درین عصر ، غلط ونادرست است ، ونباید هداياي سرپوشیده به گل ریحان را بپذیریم ، بلکه برماست که اولاً ازداخل آن باخبر شویم وبعد آنرا بپذیریم ویاآنکه آنرا دربحر بیاندازیم .

داعي اسلام درحضر موت

علي احمد باکثیر درشهره سوربایا درکشوراندونیزیاتولد یافته ، پدرش یکي ازان تجاران حضرموت بود که درجزیره هاي شرقي هند زندگي داشتند ودران جا بنابر حسن سیرت ورفتار نیك که دربراهالي این جزیره ها داشتند دین اسلام را درین جزایر پخش نمودند .

زمانیکه وي به سن هشت سالگي رسید - بنابر عادت مردم حضر موت - به وطن اصلي خود برگشت تادرآن جاعلوم دیني وزبان عربي را فراگیرد ودران جا درشهر « سیون» علوم متداوله رافراگرفت ، وعبقریت وذکاوت عجیب اش رونماگردید ، ودرسن ۱۳ سالگي به سرودن اشعار انقلابي پرداخت دیري نگذشت که آوازه این شاعر جوان درگوشه وکنار حضرموت پیچید ، ومردم اورا بصفت داعي اصلاح اجتماعي ، وپیشتازنهضت تجدید خواهان دربخش اسلوب تعلیم ، ومتأثر به دعوت داعیان تازه ومجددین دین اسلام چون سیدجمال الدین افغاني ، ومحمد عبده ورشید رضا شناختند ، وي هنوزدرسن بیست سالگي قدم نگذاشته بود که اداره، مدرسه نهضت علمي دره سیئون » رابدوش گرفت ، ودرنظام درسي آن تغیرات را بوجود آورد ، بعد به نشر مجله، « التهذیب » پرداخت ، وباجمعي ازادیبان جوان عصر خود این مجله را درسال ۱۳٤۹ هـ به نشر رساند ، وازطریق آن آراء وافکار خود را بگوش مردم رساند وبانوشته هاي ادبي وشعري خود دگرگوني درجامعه ایجاد نمود ، ولي ازآنجائیکه هر عصر حاسدان را دردامان خود مي پروراند وي از اذیت آنها نیز نفس راحت نکشید ، وسپس مرگ همسرش را ازدست وي ربود ، واورا دربحر ازغم واندوه وفراق انداخت ، وزمین با همه وسعتش بروي تنگ شد ، وراه هجرت وترك دیار را ناگزیر پنداشت وسرانجام افسرده واندوهگین ، باچشم هاي اشك بار این دیار را بقصد سرزمین ادیب پرور مصر ترك گفت .

اما وي قبل ازرفتن به مصر بخاطر زیارت ودیدار ازمادرش روبسوي « جاوا » نهاد ، وبعد ازتوقف کوتاهي دران جا به مصر بازگشت .

باکثیر درسال ۱۹۳٤ هـ به مصر رسید ودران جا آمال وآرزو هاي خود را دریافت، چون آرزو داشت که هرگاه درین دیار قدم گذارد خواهد توانست موهبه هاي شعري خود را به نمایش گذارد ، ومقام امیر الشعراء را دریابد ، مقام که کمتر ازمقام همتایش شوقي وحافظ نباشد ، چون دریافت که زبان انگلسي اشعار دلچسپي را احتوا نموده لذا رغبت آن دردلش پیداشد تابه این زبان تسلط کامل حاصل کند ، وازقبل نیز درعدن به آموختن زبان عربي پرداخته بود - لذا دربوهنتون مصر دربخش زبان انگلسي ثبت نام کرد ، ودرچنین فرصت افق هاي تازه ومواهب جدیدي دراشعار اوپدیدآمد ، وکتابهاي شکسپیر درامه نویس مشهور انگلسي را تحت مطالعه قرارداد واسلوب تازه را درهنر درامه نویسي ازویافت .

درسال ۱۹٤۰ هـ باکثیر از دار المعلمین فارغ و۱٤ سال بصفت معلم انگلسي ایفاي، وظیفه نمود که ازآن جمله هفت سال را درمنصوره وبقیه را درقاهره سپري کرد ، ودرین مدت بانوشتن داستانها ودرامه هاي تربیتي مقام اول را درمیان ادبا وفضلاء احراز نمود .

اکثر نوشته هاي باکثیر درمجله « الدعوه» وجریده، « الاخوان المسلمون » انعکاس یافت .

درسال ۱۹٤۵ مهمترین درامه، سیاسي خود را بعنوان « شیلوك جدید » -عضوتازه - به رشته، تحریر درآورده ودران قیام دولت اسرائیل راپیش بیني نموده وملت عرب را ازشر آن برحذر ساخت ، وسپس درامه هاي دیگري بنام «شعب الله المختار » و « اله اسرائیل » و « تورات گم شده » رابه دست نشر سپرد .

وبه این ترتیب درفن درامه نویسي ید طولاني پیدانمود ، وداستان هاي کوتاهي زیادي نوشت که شمار آن بیشتر ازهفتاد است ، واکثریت این درامه ها قضاياي عرب وفلسطین را درمجامع بین المللي بازگو مي کرد .

بدون شك کاوشگر درآثار باکثیر درخواهد یافت که این شخص استاد درامه نویسي سیاسي درادب امروزي مابشمار مي رود ، زیرا هیچ یك ازادباي اسلامي به پیمانه وي درعصر خویش به هنر تمثیل اسلامي دست نزده است ، وچون او به این موضوع اهتمام نکرده است .

اگر خواننده، نوشته درامه، اورا که بنام « لیلام امپراطوري » که دران بازگشت امپراطوري انگلس را ازعالم اسلامي تصویر نموده ، ویا درامه « بازگشت فردوس » راکه دران جهاد اسلامي در اندونیسیا را برضد استعمار هالیندها تمثیل نموده مطالعه کند ، درخواهد یافت که باکثیر درقلب امت اسلامي زندگي کرده ودررنج عذاب ، سعادت ونیك بختي آن سهم فراواني داشته است .

کتاب « هـ روت وماروت » یگانه کتابیست که ازتفاسیر قصص قرآني آنرا اخذ نموده به رشته، تحریر در ورد ، وجائزه دولتي را نصیب گردید - وبعد کتاب « راز شهزاد » رانوشت که این کتاب نیز به نوبه، خویش شهرت اورا بالا برد .

هرچند که درسالهاي شصت دزدان مصري درامه توانستند باکثیر را ازصحنه شهرت بدور نگهدارند وکارهاي اورا ازنظرمردم بپوشانند ، واین امر تا آخرین دم حیاتش باعث غم واندوه وي شده بود - اما نوشته هاي نمایش نامه هاي اوشهرتش را درآسمان ادب بلند ساخت ، بخصوص کتاب « وا اسلاماه » که وي رامستحق چندین جائزه ساخت ، براعتبارش افزود ، واین کتاب درفلم به زبان عربي وانگلسي تمثیل گردید ، وقرائت آنرا درچندین کشور عربي براي شاگردان دوره لیسه جزء پروگرام درسي قراردادند .

باکثیر عادت داشت که کتاب هاي خود را باذکر آیات ازقرآن شروع مي کرد که بیانگر اصل وهدف کتاب مي بود ، گویا بااین عمل خود بر این نکته تاکید مي گذاشت که همه قضاياي انسان وکائنات وزندگي وابسته به قرآنست .

بزرگترین اثري که باکثیر ازخود بجاگذاشته ومن حیث بهترین اثر خاتمه زندگي اش شناخته شده کتابیست بنام «ملحمة عمرالکبری » - نبرد سنگین عمر - این کتاب نمایشنامه ایست که درطي ۱۹ جزء آنرا به رشته تحریر درآورده ، وهمه جوانب زندگي اسلامي را دران تمثیل کرده ونمونه ومثال حکومت اسلامي وشخصیت اسلامي را دران انعکاس داده است ، تابدین ترتیب مسلمانان درروشنائي تعلیمات دین خویش وسیرت رهروان صادق وراستین

صح

ادیب نامور در آستان جواني هنگام ورودش به مصر درسال ۱۹۳٤ م

تاجکستان او د اسلامی ځواکونو غښتلتیا

په ورستیو پاځونونو کښې د اسلامی تحریک بریالیتوب

په کمونیستی نړۍ کښې د کمونیزم سقوط اوبیا په شوروی کښې د ورو ستی کودتا ناکامیدل د آزادی غوښتونکو ملتونو حوصلې اوچتې کړې اوحتی اوس په شوروی کښې چې د کمونیزم اصلې مرکزشمیرل کیده آزادی غوښتونکی تحریکونه دومره ځواکمن شوي دي چې د خپلو سیمه ایزو جمهوریتونو برخه لیك په ټاکلو کښې اغیزناك رول ترسره کولای شی.

په مرکزی آسیا کښې اسلامی ولی د کمونیستانو په وړاندی خپل مقاومت ته دوام ورکوی او د خلکو مختلفی پرگنی چې له کمونیستی نظام نه پوزې ته راغلی اودهغه کرغیړن سیاسی او اجتماعی عواقب یې په خپلو سترگو لیدلی دی له دغو وگړنیزو خوځښتونو نه ملاتړ کوی . همدغه وضع اوس په تاجکستان کښې واکمنه ده ، تقریباً د دومیاشتو په ترځ کښې دغه جمهوریت دری جمهور رئیسان له لاسه ورکړل . د روانی میاشتی په سرکښې د تاجکستان جمهور رئیس رحمان نبی اوف د هیواد د مسلمانانو او آزادی غوښتونکو غورځنگونو د پراخه مظاهرو اوپاڅونونو په نتیجه کښې له خپلې دندی نه استعفا وکړه خودا اعلان یې هم وکړ چې خپل ځان به د جمهوری ریاست راتلونکو انتخاباتوته چې د اکتوبر په ۲۷ نیټه به ترسره شی ، کاندید کړی .

د ورستیو اسلامی پاڅونو لړی هغه وخت پیل شوه چې غلور اونی وړاندی خلکو په دوشنبې اود تاجکستان په نوروښارونو کښې د اسلامی او آزادی غوښتونکو تحریکونو په غوښتنه ددغه جمهوریت د پارلمان دهغی پریکړې برضد چې « نبی اوف » یې د جمهور رئیس په توگه ټاکلی ؤ ، په مخالفت لاس پورې کړ اودهغه د استعفا غوښتونکی شول .

رحمان نبی اوف چې یو اشد کمونیست دی په ۱۹۸۵ میلادی کال کښې د تاجکستان د کمونیست گوند د رئیس په توگه ددغه جمهوریت مؤثر کنټرول په لاس کښې درلود اوپه حقیقت کښې د ټول تاجکستان یو ټول عمومی قوماندان گڼل کیده خوپه همدی کال کښې نوموړی دهغو کسانو په کتارکښې راغی چې د گورباچوف د اصلاحاتو په پیل کښې د فاسدو عناصرو په توگه پیژندل شوی ؤ اوهمدا لامل ؤ چې له قدرت نه گوښه کړای شو اودهغه پرځای قهار محکموف د قدرت واگنې په لاس کښې ونیول . قهار محکموف په دې هاند او هڅه کښې شو چې د کمونیستانو او اصلاح غوښتونکو ترمینځ د منځگړی رول ولوبوی خود مسکو د کودتا په ورځ د ستری اشتباه مرتکب شو اوهغه داسی چې نوموړی د شوروی د نورومقاماتو په خبر د کودتاچیانو اضطراری کمیټه چې فقط څو ورځی په قدرت کښې وه ، محکومه نکړه اوپه دی توگه یې د تاجکستان کمونستان له یوغیر مطمئن حالت سره مخامخ کړل . له دی امله هغوی مجبور شول چې نوموړی له قدرت نه لری اوقدرالدین اسلانوف دهغه پرځای انتخاب کړی . قدرالدین اسلانوف غوښتل چې همغه دوه مخی سیاست ته دوام ورکړی خوناځاپه د مسکو له غوښتنو څخه یوځوځدمه وړاندی ولاړ اوکمونیست گوند یې معلق اعلان کړ . همدا لاملا ؤ چې د تاجکستان پارلمان چې اکثره غړی یې کمونیستان دی ، دروان کال د سپتمبر په ۲۳ د یوی غونډی په ترځ کښې دکمونیست گوند د تعلیق په هکله د اسلانوف فرمان لغو اوپه ټول جمهوریت کښې یې اضطرای حالت اعلان کړ اوهم د اسلانوف د استعفا غوښتونکی شو . همدا لامل ؤ چې قدرالدین اسلانوف هم دوه اونی وروسته لـه قدرت نه گوښه کړای شو اورحمان نبی اوف بوځل بیا د قدرت په گدی کښیناست . د نبی اوف بیا قدرت ته رسیدل د تاجکستان اسلامی او آزادی غوښتونکو غورځنگونوته یو ستر چیلنج تلقی شو اوپاڅي وانگیرله چې کمونیستان غواړی بوځل بیا په قدرت باندی خپلی منگولی ټینگی کړی اوهیواد د یوی توری دیکتاتوری په لوری وخوځوی . همدغه ؤ چې د تاجکستان خلکو د اسلامی نهضت ، اسلامی تجدد اورستاخیز گوندونو په لاربښوونه د حکومت د کمونیستو واکدارانو مقابلې ته ملاوتړله اوستری مظاهری یې پیل کړی . د دیموکرات گوند لیبرال غړی هم د اسلامی گوندونو په خوا کښې ودریدل اوپوشمیر مخورو روحانیونوهم د خلکو د ویښولو له پاره پراخ فعالیتونه په لاره واچول . داسی ښکاریده چې ښایی دغه مقابله چې د سپتمبر د میاشتی په وروستی اونی کښې خپل لوړ اوج ته ورسیده ، د ۱۹۹۰ میلادی کال د فبروری د میاشتی د پیښو تکراروی خوداځل د حکومت مخالفینو داسی منظمه اوځواکمنه مبارزه پیل کړه چې مسکوبی دی ته اړکړ چې په ځای ددی چې د کمونیستانو د ملاتړ له پاره تاجکستان ته پوځ ولیږی ، یو پارلمانی هیئت یې دوشنبې ته واستوه څو مخالفینو سره خپل ملاتړڅرگند کړی .

د ۱۹۹۰ میلادی کال د فبروری د میاشتی په پاڅون کښې څه د پاسه ۲۰ تنه ووژل شول اود مسلمانانو اقتصا د ته زښت زیات زیانونه ورسیدل اوبیا وروسته د تاجکستان د عالی شوری له پاره انتخاب ترسره شول چې دهغو په نتیجه کښې زیاتو محافظه کاروکمونیستانو ددغه جمهوریت پارلمان ته لاره پیداکړه ، خو د سږکال وروستي پاځونونه د ۱۹۹۰ له پاڅون سره توپیر درلود داځکه چې داوسنیو پاڅونونو په دوران کښې دشوروی د مرکزی آسیا حربی قوماندان دتاجکستان کمونیستو محافظه کارانوته داځرگنده کړه چې دهغه ځواکونه به د تاجکستان په چارو اومسئلو کښې مداخله ونکړی . له دي امله د تاجکستان د کورنیو چارو وزیر آیاز نوجوانوف هم دې ته چمتو نه شو چې په دوشنبې کښې اضطراری حالت تطبیق کړی او مظاهره کوونکی د پارلمان لـه مخې نه وشړی . نوجوانوف په دی پوهیده چې د پارلمان له تهدید نه وروسته د مظاهره کوونکو شمیر لس زروتنو ته رسیدلی ؤ نو له دی امله یې د ویتو له تویدو څخه مخنیوی وکړ. داچې اردو اود کورنیو چارو عسکر حاضرنه شول چې د کمونیستی واکمنی نه دفاع وکړی داپه دی معنی نده چې هغوی په انسان وژنه کښې ماهرندی بلکی له دېنه یې هدف داؤ چې محافظه کارو کمونیستانو ته د اوښیی چې هغوی مخالفانو سره په مقابله کښې هیڅ مرستندویان نلری ، له جمهوریت نه بهرهم څوك پیدانه شول چې له دغو افراطیانو څخه ملاتړ وکړی خوکله چې آزادی غوښتونکو ځواکونو له بوریس یلتسین څخه د ملاتړ غوښتنه وکړه نود مسکو دیموکراتانو سمدلاسه پوهبتت تاجکستان ته ولیږه او خپل ملاتړیې د حکومت له مخالفینو سره څرگند کړ . یوبل هئیت د ازبکستان د اولسی جبهی له خوا دوشنبې ته ولیږل شو څو د تاجکستان له دیموکراتانو سره خپل ملاترڅرگند کړی . سره له دی چې د ازبکستان او تاجکستان ترمینځ د قومی شخړو په سرسخت مخالفت موجود دی خو د دواړو جمهوریتونو آزادی غوښتونکو ځواکونو دیر ژر گډ هدفونه پیداکړل اویوبل سره یې خپله خواخوږی ښکاره کړه . په دی ترځ کښې د روسیې د خلکو نمایندي د مرکزی تلویزیون د خبرپال سره په مرکه کښې وویل چې : نبی اوف هیڅ دول روغی جوړی ته غاړه نه ږدی اود مخالفینو مشرانوته یې خبرداری ورکړ چې تاجکستان به په یوبل گرجستان بدل شی.

نبی اوف د مخالفینو په وړاندی د یوی بلی اشتباه هم مرتکب شو اوهغه داسی چې نوموړی په دوشنبې کښې بهرنیو خبریالانوته څرگنده کړه چې هغه براځتی کاندیدی چې د جمهوریت د تبولو اوسیدونکو له ملاتړنه برخمن دی خوکله چې د سپتمبر په ۳۰ د تاجکستان عالی شوری راغونډه شوه او اکثرو محافظه کارانو خپل قاطعیت له لاسه ورکړی ؤ دېر ژربی اضطراری حالت لغو کړ اود کمونیست حزب د تعلیق مسئله یې بوځل بیا ترغور لاندی ونیوه .

څو ورځی وروسته تقریباً لس زره تنه راغونډ شول ، د نبی اوف د استعفا او اسلامی تجدد گوند ته یې د قدرت دانتقال غوښتنه وکړه . تهوله ورځ په مظاهرو تیره شوه اوپوشمیر مخورو روحانیونو د پارلمان په وړاندی د خورو په اعتصاب لاس پورې کړ . د مخالفو گوندونو مشرانو خلکوته وینا وی کولی اوعلماؤ په لوډسپیکرونو کښې د مسلمانانو د بریالیتوب له پاره دوعاگانی کولې . په پای کښې د اکتوبر په ٦ د شوروی د جمهور رئیس ځانگړی استازی اود سن پیترز بورگ د ښارحاکم مظاهره کوونکوته د یوی وینا په ترځ کښې اعلان وکړ چې موږ پرته له دی چې له ټاټکوټو څخه گټه واخلو د کمونیست له افراطیانو روغی جوړی ته ، ستاسو تقریباً ټولی غوښتنې ومنل شوی . د کمونست گوند فعالیت منع او مشرانو یې استعفا وکړه . په دی وخت کښې مظاهره کوونکو د رستاخیز اوتجدد اسلامی گوندونو جنډی پورته کړې وی اود « بیدارشو تاجك » شعارونه یې ورکول .

له بلی خوا کوم روسان چې په دغه جمهوریت کښې ژوند کوی اوس د تیښتی لاری گوری لهوی . د اسوشیدت پرس آژانس په خپل یو وروستی رپوټ کښې وایی : تاجکستان هم لکه دشوروی

صح

له کمونستانو سره په گډه لویه کښې ننوتل د

د روسیي اوکیوبا ترمنځ د یودیرش کلنی پوځی مرستی پای

زاړه « نصير »

د روسیي مشر گوربه چف له کیوبا څخه د پوولس زره روسي پوځیانو د ایستلو له اعلانولو سره دهاوانا او مسکو ترمنځ د نږدی او پراخو پوځي مرستو یودیرش کلنه دوسیه وتړله . کیوباته د روسیي د مرستو بندیدل اولدی هیواد څخه د روسیي پوځیانو او مشاوریتو راغوښتل به فیدل کاسترو او د کیوبا انقلاب لـه راز راز کـورنیو ستـونزو اوشکلاتو سره مخامخ کړي .

د نیویارك ټایمز ورځپاڼې د خپلوتیرو گڼو په یوه سرمقاله کښي ددغه مطلب له اتکل سره د لویدیځي نیم کرې په خوله کي له یوه چینجن غابن سره تشبیه کړی ده چې دغه ایسته غورځول به امریکا له خپلو همښتیو اوپخوانیو ستونزو څخه خلاصه کړی .

دغه ورځپاڼه لیکي : که په ۱۹۶۱ کال کې د خوگانوپرخلیج باندی د تیری د ماتی فاجعه او د ۱۹۶۲ کال د توغندیو بحران چې تیری بی د دریمی نړیوالی جگړي رامنځته کیدو ته نږدی کړه د کیوبا د انقلاب د کتاب لومړی اودوهم فصل وگڼو ددی کتاب دریم فصل به د گهوویو پر اختیا اوله اوسنی وضعی څخه د خلکو دنه رضایت زیاتوالی او په کیوبا کی د دموکراتیکو اصلاحاتو دمنځته راتلو لپاره هڅه او هاندوی چې په یوووډ به امریکا اودسیمی نور هیوادونه تراغیزی لاندی راولی .

نیویارك ټایمز خپلی سرمقالی په ترځ کی زیاته کړیده په ۱۹۶۲ م کال کی د دواړو سترو قدرتونو د موافقی نه وروسته چې د توغندیو د بحران په پای ته رسیدو تمامه شوه په کیوبا کی د یوی ولی روسانو شتوالی رسمیت پیداکړ اوفیدل کاسترو د دریو لسیزو په اوږدوکی له دغی پلمی څخه په استفاده هیواد د روسی وسلو په زیرمتون اوپه لویدیځه نیم کرۀ کی د انقلابیونو د زده کړی په کمپ بدل کړ . خو نن ورځ د فیدل کاسترو بدداران په مسکو کی له پښو غورځیدلی دی اود کیوبا سوسیالیستی انقلاب د روسیي د خوملبارد والړی مرستی نه پرته د ماتی او شکست په لور روان دی او کاسترو لـه کیوبا څخـه د روسیـي د وروستی مشاور په وتلو سره ځان د امریکی په وړاندی بواځی گوری له هرڅه نه د شرم ځای لا دادی چې دغه پریکړه د میخائیل گوربه چف اود امریکا د بهرنیو چارو دوزیر جیمزبیکرترمنځ د کتنی په وخت کی اعلان شوه .

له کیوبا څخه د روسیي پوځیانو اومشاوریتو د ایستلو اعلان د امریکا له سترگو څخه دغه تیره اغزی د ایستلو حیثیت درلود چې په کلونو کلونو بی د امریکی بینایی آزاروله .

دکیوبا اوروسیي ترمنځ پوځي مرسته په ۱۳۳۹ شمسی کال کی پیل شوه اوداهغه وخت وو چې فیدل کاسترو د قدرت واگی په لاس کی اخیستی وی له کیوبا سره د روسیي مرستو د هاوانا انقلابی مشران د امریکی د فشارونو په وړاندی په پښو ودرول اودا امکان بی منځ ته راوړ چې مسکو په لویدیځه نیم کرۀ کی ځان ته د پښو ایښودلو ټینگ ځای پیداکړی .

د روسیي قومړنی پوځی مشاورین د کاسترو د نوی قدرت ته رسیدلی دولت سره د مرستی په خاطر چې د امریکی ترسخت فشار لاندی وو د روسیي د هغه وخت د مشر خروسچف په دستور د ۱۳۳۹ لمریز کال د تلی د میاشتی په لومړیو شپو ورځوکی هاوانا ته ورسیدل .

په هغه وخت کی د کاسترو تر امرلاندی قوتونه د اسکمبری په غرونو کی له ځوزوه تنو مخالفو قوتونو سره چې د امریکا لخوا بی ملاتړکیده په جگړه بوخت وو .

د خوگانو په خلیج کی په کیوبا باندی د امریکا د سازمان ورکړشوی برغل دماتی خوړلو او په شاتمبیدلو له امله د مسکواود کیوبا ترمنځ اړیکی ټینگ کړل .

دهمدغو جگړو په لړکی وو چې خروسچف د امریکا دهغه وخت جمهور رئیس جان اف کندی ته خبرورکړ چې روسیه به دهرپوځی برغل په وړاندی د کیوبا د نوی دولت ملاتړ اودفاع وکړی د همدغه کال په اوړی کی د روسیي د مشاوریتو یو هیئت د روسیي د عالی مشاور الکسي د منتف په مشری د کیوبا جزیری ته ورغی ددغه هیئت درسیدونه وروسته د یوه کال نه په کمه موده کی د دواړو هیوادونو ترمنځ د پوځی همکاری په خوا کی د کیوبا د پوځونو روزنه هم پیل شوه .

د ۱۳٤۱ کال د سرطان په میاشت کی د دواړو هیوادونو مشران له هغی جملی نه کاسترو او خروسچف په خپلو کی له ځو اونیو خبرو اترو وروسته دی نتیجی ته ورسیدل چې بنایی په کیوبا باندی د امریکی لخوا نوی برغل وشی دغه کار ددی سبب شو چې روسیه د کیوبا په خاوره کی خپل اتومی توغندی ځای پرځای کړی . د ۱۳٤۱ کال د اسد په میاشت کی اتومی توغندی لـه شلو زروتنو پوځیانواو نور پرسونل سره په کیوبا کی ځای پرځای شول .

د ۱۳٤۱ کال په سنبله کی کیوبا او روسیي اعلان وکړ چې دهاوانا د دولت په خلاف د امپریالیستی گواښونو د موجودیت له امله دغه هیواد له مسکونه غوښتنی دی ترڅو خپل ماهران اوتکنیشنان د کیوبا بی پوځیانو دزده کړی او روزنی لپاره دغه هیواد ته ولیږی.

په دغه وینا کی د کیوبا د اتومی توغندیو ځای پرځای کیدوته کومه اشاره نه وه شوی خو وروسته بیا امریکا د کیوبا په خاوره کی د اتمی توغندیو ځای پرځای کیدو باندی خبره شوه اوهمدی کار نړۍ د اتومی جگړی په ګنډو کی دلویدو دخنوي په سرودوله په همدی وخت کی دامریکا یوه اکتشافی الوتکه د کیوبا دخاوری په سر د روسانو لـه ځمکی نه هواته د توغندی په واسطه راوغورځول شوه اوهمدغه کار د امریکا لخوا د کیوبا دسمندری محاصری سبب شو .

د کیوبا د توغندیو بحران چې ددواړو ستروقدرتونو اړیکی بی خپړکړی وو په پای کی له کیوبا څخه د روسیي توغندیو د ایستلو او د امریکا لخوا د هاوانا په خلاف د پوځي یرغل نه کولو په تضمین پای ته ورسید .

روسانو له کیوبا څخه تروتلو وروسته خپل یو غونډ کوماندویان له یوشمیر وسلوسره په کیوبا کی پریښودل او د ۱۳۵۰ کال تر وروستیو پوری بی د یو ملیارد اوینځه سوه ملیونو ډالرو په پانگی اچولو سره د کیوبا بی پوځونه نظامی روزنی ته ادامه ورکړه .

د روسیي کوماندویی ولی هیڅکله هم د امریکی د جاسوسی او اطلاعاتی سرچینو پاملرنه ځانته راونه گرځوله . دکارترد جمهوری ریاست په دوره کی کیوبا پانو له خپل سرحد نه بهر اقدامات زیات کړل اوخپل پوځي مشاورین بي د مریکا اولاتین امریکـا کیڼ پـالـو هیـوادونوتـه ولیږل اولدی سره جوخت روسیي هم له کیوبا سره خپلی پوځی مرستی زیاتی کړی .

د ۱۳۵۸ کال پـه اوړی کی امریکـا پـدی پوه شوه چې د روسیي یوه ولـه کوماندویان په کیوبا کی ځای پرځای شویدی اوپو شمیر امریکایی سناتورانو له کارترنه وغوښتل ترڅو دغه مسئاله د امریکا د امنیت په خلاف د یو گواښ په نامه وغندی د امریکا اطلاعاتی سرچینو په هغه وخت کی ددغی ولی د غړو شمیر دری زره تنه وښوده .

دغی مسئالی دغه راز ترنن ورځی پوری د امریکا حساسیت د ځان په لور راگرځولی وو ترڅو پوری چې گورباچوف دغه موضوع څرگنده کړه چې روسی پوځونه به له کیوبا څخه وباسی . امریکاییانو تراوسه پوری داسی فکرکاوه چې په کیوباکی د روسی پوځونو شمیر له شپږونه تر نهو زرو پوری دی خو د گوربه چف څرگندونو چې په کیوبا کی پوولس زره عسکرځای پرځای دی د امریکا په پوځی محافلوکی بولی پوښتنی راپرسیره کړی .

د پنتاگون رسمی ویاند پیت ویلیامز په کیوبا کی د روسیي پوځی کوماندویانو شمیر (۲۸۰۰) تنه وښوده او زیاته بی کړه چې دغوی ماموریت په کیوبا کی د روسیي مشاوریتو ساتنه اوخارنه وه ، ده وویل په کیوبا کی د روسیي د ځمکنی اداری اوجاسوسی سیاست د پرسونل شمیر دوه زره تنه دی اوپرته لدی له (۱۲۰۰) څخه تر (۱٤۰۰) پوری روسی مشاورین په کیوبا کی موجود دی چې د پوځیانو اوماهرانو ټول شمیر شپږ زروته رسیږی .

ده وویل داسی فکر کیږی چې گوربه چف په احتمالی توگه (۲۷۰۰) تنه غیر پوځی تکنیشنان د شپږو زرویا د شویو کسانو سره یوځای کړیدی که چیری داسی وی بیاهم د (۹۷۰۰) او پوولس زروتنو ترمنځ دومره فاصله نشته .

که څه هم چې امریکاییان د گوربا چوف لـه اعـلان نـه وروستـه د خـپـلـو اطلاعاتو په کمزورتیا پوهیدلی دی خوله هرڅه نه زیات له کیوبا څخه د روسی پوځونو په وتلو خوشحاله شویدی .

دوطن مینه

عتیق الله « بابکرخیل »

وطنه ستا دشنو درونه قربان * ستاله آزادو پرگنو نـه قـربان

***

تاسره مینه په ریښتیا لرومونږ * ستاله دي دنگو دنگوغرونه قربان

تا یـومسکن د پـوخ ایمـان ویښمه
تـا افتخـار د مسلمـان ویښمـه
هریـو وگـړي دي افغـان ویښمـه

ستا ارتودښتوهسکوغرونه قربان * وطنـه ستا د شنو درونـه قربان

وطنـه تاتـه احترام لـرو مـونـږ
کونج اوکنارته دي ښه پام لـرومـونـږ
په خپل نظر کښي چی واخان لرو مونږ

ستا دواخان د سردرونه قربـان * وطنه ستـا د شنو درونه قربان

وطنـه مـونـږ غـوندي بچیان لري ته
په زړه کښي ځله نور خپگان لـري ته
ځانلـه تـاریخ پـه ټـول جهـان لـري تـه

ستا دتاریخ له کارنامونه قربان * وطنه ستا د شنو درونه قربان

وطنـه تـابـه تـل آزاد غـواړو
ستـا دښمنـان بـه ټول برباد غـواړو
هریـو وگـړي بـه دي ښاد غـواړو

ستا مجاهـدو ولسـونه قـربان * وطنه ستا د شنو درونه قربان

وطنه مـونـږ غـلامي نـه غـواړو
ستـا دښمنـانـو تـه زاري نه غـواړو
د بـل پـه لاس دي آبـادي نـه غـواړو

ستا ددي ورانوکنډوالو ته قربان * وطنه ستـا د شنو درونه قربان

آیانشست باروسها...

پیشنهاد مذاکرات میان مجاهدین وروسها درمسکو یکي ازان راههاي است که غربیها میخواهند ازطریق آن به رژیم شکست خورده نجیب ودستیارانش امتیاز دهند، وآنها رادرتشکیل حکومت آینده که روي کار خواهد آمد سهیم سازد ، وبه این ترتیب میان مجاهدین وکمونیست ها که ازمدت تقریبا چهارده سال باینطرف باهم درجنگ وستیز اند صلح ایجاد نمایند ، درحالیکه طبیعت این جهاد واهداف که مجاهدین درقبال آن ، بار این همه تکالیف طاقت فرسا را پذیرفته اند، با این گونه نشست ها ومذاکرات بادشمن مخالفت دارد ، ونمیشود که همه جنایات کمونیست ها را که درحق ملت مظلوم افغانستان درطي این مدت مرتکب شده اند نادیده گرفت ، ویاآنها درگرد میز مذاکره نشست ، ویابا آنها حکومت مختلط تشکیل داد ، زیراکه مردم افغانستان بخاطر تشکیل حکومت مختلط ویاتشکیل حکومت بیطرف این جهاد را به راه نیانداخته اند ، واینهمه تکالیف را بخاطر آن متحمل نشده اند که حکومت باقاعده وسیع ویاحکومت مرکب ازمیانه رو ها وتندرو ها - به اصطلاح خودشان - را تشکیل دهند بلکه هدف ازین جهاد بالاتر وبرتر ازآنست که کفار ومزدوران حلقه بگوش شان تصورمیکنند ، تقدیم بیش از دوملیون شهید بخاطر چنین هدف پست وناچیزیکه غربیها به مجاهدین پیشکش مینمایند ، گویاي ظلم وجفاي آنها نسبت به این ملت مظلوم وناتوان است . ولي از فضل واحسان خداوند اکنون جهاد ما ومجاهدین سربکف ما این مرحله راپشت سرگذاشته اند که کفار شرق وغرب بتواند اهداف ونقشه هاي پلید خود را برسر این ملت آگاه وبیدار بقبولاند ، چون جهاد ما اکنون بیش ازشانزده ملیون مجاهد وپاسدار دارد که بامال وجان خود آماده اند که ازآن دفاع کنند ، دیگر خاموش ساختن شعله این نورتابناك بدست استعمارو بدخواهان اسلام میسر نخواهد بود ، وآنها هرقدر سعي کنند وتلاش ورزند و طرحها ریزند ، تا این جهاد را ازمسیر اسلامي آن منحرف سازند ، انشاء الله این امکان را نخواهند یافت . واین آرمان را باخود به قبرستان تاریخ خواهند برد .

وآنانیکه بنام اسلام وتبعه افغانستان ازرادیوهاي دشمن ازشرق وغرب سرمي کشند وپیرامون آینده افغانستان حرف میزنند ، وازجهاد وهجرت بهره ندارند آنها نیز به نوبه خویش درصف دشمن قرارداشته وملت افغانستان آنها رامتکاي رژیم کمونیزم درافغانستان دانسته وبه هیچ صورت ازعداوت ودشمني آنها نسبت به این جهاد بي خبر نیست ، ودربرابر آنها نیز چنان موقف خواهد داشت مثلیکه باکمونیست ها دارد .

اتخاذ تصمیم مذاکرات میان هیئت مجاهدین وروسها درمسکو ، درحالیکه رژیم مزدور وي درافغانستان بر سر اقتدار است مردود بوده وبه هیچ صورت نمي تواند براي مجاهدین امتیازي بخشد ، ویا رژیم کابل رابه برکنار ساختن ازقدرت تنازل دهد ، بنابرین مجاهدین مخلص افغانستان تاوقتیکه رژیم کابل برسرقدرت باقیست ، مذاکرات باروسها رابشدت رد نموده وآنرا دام دیگري براي صید نمودن اهداف جهاد میداند، و هرآنکس که دانسته ویاندانسته به چنین پیشنهاد هاي دشمن سرتوافق بجنباند ، درحقیقت به حق این جهاد جفا نموده وازخط اهداف آن به بیراهه قدم گذاشته است .

امید واریم که بزرگان تنظیم هاي جهادي وقوماندانان دلیر ومردم غیور وباشهامت ما بانگاه دور اندیشانه وبینش وسیع خود به خطر این نشست هاي بي موقع پي برند ویا احتیاط ازآن دامن برزنند ، تا نام نیك خود وجهاد خویش را بااهداف پلید آنها آلوده نسازند .

ومن الله التوفیق

علي احمد باکثیر ...

خو د راه روند .

بالاخره وي بعد ازیك عمر خدمت به اسلام درنوامبـر ۱۹۶۹م درخانـه اش درقاهره ، دراثر سکته قلبي شدید درگذشت ، وبیش ازهفتاد کتاب طبع شده وبانزده کتاب تحت طبع ، ویك دیوان مخطوط ازخود بجا گذاشت .

رحمه الله رحمة واسعة

موږ په شپو شپو په وږي نس ویده شوي یو

محمد ظاهر « ستانیزي »

په ټول هیواد کښي وضع بالکل خرابه وه هرڅه په ټپه ولاړو ، له یوي خوا نه غذائي مواد دننه ملك کي د ښارونو دهټیو په مخ نه لیدل کیده ، له بلي خوانه دکمونستانو ظلم اوبربریت په دي تیرودبارلسوکالوکی په مظلومو اوبي دفاعو خلکوباندي داسي حد ته رسیدلي وه چي ټول هیواد ، ویر او واوېلاډیه سر اخیستي وه اوله هري خوانه ددي حیوان صفتو انسانانو دوحشت دلاسه د چیغو اوفریادونواوازونه پورته کیده ، چابه دزندانو مخـي تـه ژړل ، چـا بـه پـه هدیروکښي په سرخاوري بادولي ، چا به په شفاخانو کي دخپلو بي لاسه اوبي پښو شویو اوزخمي شویو دبسترخواکي چیغيَ وهلي چابه په ښارشویو کورونوکي دخپلومعصومو اوبي گناهو ماشومانو ، اوبادکورنيو دنوروغړو ، دبدن ټوټه شویو اندامونوته ژړل اوبابـه دکورنیوچـارو دوزارت دد روازي مخي ته په شلیدلي اولوتدگریوان سره ولاړ اودخپل ورك شوي زوي ، پلار، وروو او ...غـوښتني بـه ئي کولي .

هره ورځ به کمونستانو دخپل بادار په لارښوونه د ښارپه شاوخوا کلیو اوبا دهیواد په بیلا بیلوځایونوکښي به بي په بي دفاع اومظلومو خلکودوحشت نه ډکه بمباري کوله ، د ورځي څو څوځلي به کورونه تلاشي کیدل ، هرچابه دژوند ترخي شپي اوورځي سباکولي اودخپل مرگ انتظارته به سترگي په لاره وه، خلك له ډیرو لویو اقتصادي ستونزوسره لاس په گریوان وه ،دننه هیوادکښي به چي کله څه پیداشوه دهغو نرخ به ډیري لوړي سطحي ته ورسیده اودهرڅه قیمت به لس چنده ، اوکله به داسي وشوه چي شل چنده ته به ورسیده اوپابه کله کله دبازار په مخ دخرڅلاو هیڅ جنس نه څرگندیده ډیر کم مصرفه کوربه هم حیران اولاس ترزني پوري هك پك پاتي وه ، ډیري کورني به هغتوڅه چي په میاشتو ، میاشتو به په خپلو گیډو ماړه نه وه اوداسي وخت ډیرشوي چي په شپو، شپو په وږي نس ویده شوي دي .

په هرکورکښي له اته کلني هلك نه پورته به دیوي مړي ډوډۍ دپیداکولو لپاره به له خپل کورنه د مجبوریت په اساس ووت او له سهارنه ترماښام پوري به ئي ټوله ورځ د سرك په غاړه اوبادهغه شاوخواته په ټکنده غرمه کښي چي خولي به پري رواني وي تیـره ولـه او دخرڅلاولپاره به ئي کله یوڅه اوکله بل څه چي دښار په هرځاي کښي به دخلکو گټه گوټه زیاته وه په هڅوباندي به ئي په خرڅلاو رساوه .

هرچا اوهري کورني به لدي لاري نه دیوي مړي ډوډۍ پیسي پیداکولي اوکله به داسي وشو چي دیوکیلو شلغمو پیسي به بي په ټوله ورځ کښي په لاس نه ورتللي اویا به له بازارنه اخیستل شوي جنس خپل قیمت هم نه وه پوره کړي . دغریبي اوناچاري بازاردښاردهیواد په هره خواکي ډیرتود وه خلك له ډیرو لویو لویو ستونزوسره لاس په گریوان اومخامخ وه .

یوه ورځ ما دیوملگري لپاره بهرته پولیك لیږه په پل باغ عمومي کښي دمخابراتو دوزارت په لور روان وم ، لیدل مي چي دمراد په غاړه کښي یویږي پروت اوجوالي گـري کوي دفقر اوپریشاني په حال کښي لالهانده اوسرگردانه گرځیده . په ماتي چي سترگي ورلگیدي دشرمنده گي احساس ئي په ټپه کښي ښکاره شو. غوښتل ئي چي دمجبورت ټکي راته بیـان کـړي ، مـاپـه ډیره چالاکـي سـره دخپلوخبرو وارپري رومبي کړ ورته مي وویل : آفرین مراده زه ستاپه لیدو سره ډیر خوشحاله شوم اوله خداي نه مي شکر وویست چي ته دکمونستانو په لیکوکښي نه بي دریدلي ، تن چي ستاپه غاړه کښي داپـړي پـروت ده تـه پـوه شـه چـي دا ستاغیرت اومیرانه ښیي چي په خپل لاس ئي گټي په دي کاراوغریبي کښي هیڅ شرم مکوه خودخلکو نه دڅه راکړي ، لاس غځوني اوسوال گیري نه دي ځان ساتلي ده ، اونه ددي ملحد رژیم باطلو اوله غولوني نه ډکوغوښتنوته دي غاړه ایښي ده که نه نوتاته خو دنورویه شان هرڅه شته که ته بي وغواړي . خوته دپاکي اوکلکي عقیدي څښتن ئي چي دخپل حقیقي اومقدس دین په صف کښي ولاړ اوهروخت دي په دي روښانه لارکښي مضبوط گامونه اوچت کړي اودکمونستانو پوچو پروپاگندونوتـه دي غوږونـه کـانـړه نیولي دي .

همداعلت دي چي اوس ستا په غاړه کښي پړي پروت اوجوالي گیري کوي .

ته پـوه شه چي ستا په غاړه کښي دا پـړي ستـادعزت ، شـرافـت اواېرویري ده.

داهغه دغلامي پړي نه ده چي روسانو دهرخلقي اوپرچمي په غاړه کښي اچولي اودهرکمونیست اووطن پلورنکي په غاړه کښي دادبي شنگي ، بي شرمي ، اوغلامي پړي پروت دي ، بادارئي چي څنگه زړه غواړي اوخپل ووڅ ته ئي په کوم رقم تاوه وي هماغسي ورته نخیږي ، دوي به څنگه د وزارتونو، ریاستونو اوجنرالیو پوسټونوته نه رسیږي اوپه لکاو معاشونه به څنگه نه اخلي کومه بي شرمي اوسوایي ئي چي یادارکوي دوي به د احترام اودرنښت په سترگه ورته گوري .

خوته هم ددولت په یو رسمي دفترکښي دیوماموریه صفت کارکوي اوبس له وقت نه دمجبوري په اساس خپله جوالي گیري کوي .

مراد دخوشیو له پاره چپ وه بیابي داسي وویل : ته باور وکړه چي دا دري ورځي کیږي چي زموږټوله کورني په دوه یا دري ډوډیو شپه او ورځ تیره دي غوښته اودا سي نورشیان چي قیمت بي ډیر لوړده یوازي مونږ نه بلکي دښارټولوخلکو په میاشتونه په کالوهم چا ندي خوړلي نه بي خوړلي شي اونه دچا قدرت ورته رسیږي ، څه وکړو هیڅ چاره نه وینم ، زه یواځي نه بلکي ددي ښار غیر گوندي خلك ټول زمایه شان همداسي شپي اوورځي تیره وي .

هغه خوك چي په کمونیست گوند پوري ترلي دي هغوي ته هرڅه شته اوهرقسم خواړه چي وغواړي خوړي بي شي .

پـوره دیـارلـس کـالـه وشـول چـي کمونستانو دخپلو باد ا ر ا نو په لمسونه زموږ په مسلمان ملت باندي کوم ظلم اوناروا وي ترسره نکړي ټول هیواد بي په گنبوالـه بدل اوخلك بي دخپل پلرني ټاټوبي په پریښودلو سره بهرته مجبوره کړل چي اوس په بیگانه وو هیوادو کښي دهجرت شپي تیره وي . او زره بي چي څه غوښتل هماغسي به بي کول که دننه ښارکښي څوك ددوي دوحشت او بربریت په مقابل کښي ودریږي اوبادي حیران صفتوانسانانو سره مقاومت وکړي نو دخاد درواري ورته خلاصي اویا د څرخي پله زندان ورته خپله غیږ پرانستي اوبالاخره دپلي گون کندو خپله خوله ورته خلاصه نیولي ده . دي کند وکښي په زرهاو څه چه په لکهاو انسانان چي ددوي د زوالي عقیدي کلك مخالف اودشرمیدلي کمونستي ضد کسان وه پراته اودپلدوزر و په واسطه یي ترخاوري لاندي کړي دي .

خودخوشحالي خبره داده چي دلوي خداي په مرسته ددي ملت ریښتني افغانان ، هغه زړور اوقهرمان مجاهد ددوي مخه ونیوله اودملحدینوهره دسیسه اوشوم پلانونه بي شنډ اودغه ناولي څیري بي ټولي دنیاته ښکاره اوکمونستان بي په پوره بي شرمي اورسوایي سره مخامخ کړل اوداسي دعبرت درس بي دهیواد په هـره خـوا کـښي دوي تـه ورکـړچـې هـر کمونیست به دغه ترخي خاطري د ژوند تر وروستي سلگي پوري هیري نکړي .

هغه رانغمي افغانان داپه خداي مین خلك له تاریخونو څخه نه دچادغلامي پړي ئي په غاړه کښي اچولي نه بي دچاباداري ته غاړه ایښي ده افغانانو تل له کفارو اویا ددي خاوري له دښمنانو سره هر وخت جهاد کړي اوددي ملت دښمنان بي په ډیره بي شرمي سره بیرته دخپل هیواد په لور گرځ اومات شړلي اویابي ځپلي دي .

ددي خاوري اصیلو بچیانو نه یوازي دوي ته بلکي دنړي ټولو کمونستانوته بي داسي دعبرت درس ورکړ چي تر ابده به بي هیرنکړي اود شرمندگي طوق بي په غاړه کښي پروت اوسترگي بي ټپولي دنیا تـه ښیـي اومسلـمـانـو افغانا نـو نه هیریدونکي ترخي خاطري ددوي په زړونوکښي دتل له پاره پریښي اودا په خداي اووطن مین خلك په ټوله نړي کښي اوچت اوځلانده تاریخ لري .ددي مجاهد اوشهید پروړملت فرد فرد به هیڅکله دخپل سر اودخپلو قیمتي وینو په بدل کښي به یو لویشت خاوره نه چاته پریږدي اونه به دچا باداري اوحاکمیت په ځان ومني اوهر ریښتني افغان بچي به د ژوند تر وروستـي سلگـي پـوري لـه خـپـل سپیڅلي دین اووطن نه ځان قربان کړي .

دخداي په کمك

دین ، عقیدې ، وطن او شهیدانو سره جفاده .

یوهاند « سیاف »

«۲۲۸» گڼه د ۱۳۷۰ هـ ـ ش کال د میزان دمیاشتې « ۲۹ » د۱۹۹۱ میلادی کال د اکتوبر «۲۱ »

مجاهدینو یوځل بیا په ګردیز باندي په خیلواتلانه بریدونو کی یولړنوی بریالیتوبونه ترلاسه کړی دی

دمیډیا خبري آژانس دربوټ له مخي : مجاهدینو داکتوبر په ۱۷ نیټه په ګردیز ښارباندي له غلورو خواو څخه دلاس پوڅي رژیم په نظامي مرکزونو عملیات پیل کړل چي په جنوب غرب خواکي یې دځو مهمو پوستو په فتح کولو سره زیات پرمختګ کړي دي .

دخبر پر اساس نیول شوي پوستي دسروړي پوستي په شاوخوا کي موقعیت درلودي کومه چي پخوا دمجاهدینو په لاس فتحه شوي وه .

دخبر مطابق دمجاهدینو عملیات دګردیز ښار په دوه کیلومتري ، دبتوري اوحلیم کلا پوستو ته وړاندي چي پخوا دمجاهدینو په لاس فتحه شوي وي ، دوام لري .

همداراز ویل شوي دي چي په نوموړي سیمه او دګردیز ښار شاوخوا په نورو سیموکي دحق او باطل دپلویانو ترمینځ له درندو وسلو څخه په استفادي سره خونړي نښتي دوام لري .

به اثر زلزله، شدید درهند سه صد نفر کشته ودوهزار دیگر مجروح شده است

زلزله، شدید مناطق بزرگ از شمال هند را تکان داده و به مرگ حدود سه صد نفر ومجروح شدن حد اقل دو هزار نفر منجر شده است .

این زمین لرزه که مرکز آن ناحیه المور واقع در کوه پایه هاي همالیه بود بامداد امروز رخ داده است .

گذارش حاکیست که این زمین لرزه در منطقه چارباغ واقع در آیالت اوترا- پردیش و مرز تبت شدید تر از مناطق دیگر بوده است .

کارشناسان زلزله در مورد گفته است که شدت زلزله اعشاریه یك درجه ایکتر بوده ، همچنین بیشتر تلفات ازخراب شدن خانه ها ناشي شده است .

علاوه براین‌خرابي ها ، خرابي جاده ها و اختلال خطوط نیرو و ارتباطات مانع پیشرفت کار امداد گران شده است

گزارشها از ایران حاکیست که درسه صد کیلومتري در شمال شرق تهران نیز زمین لرزه، با شدت چهار اعشاریه دو درجه ایکتر رخ داده ، درین گزارشات از وقوع تلفات یا خسارات مالي ذکري نشده است .

دوتن ازمنسوبین . . .

طبق راپور (٤٤) میل کلاشینکوف، ۲ میل پیکا ، یك میل اګانیست ، یك میل هاوان ، یك راکت انداز ، دوپایه مخابره ، ٤ پایه تیلفون و مقادیر زیادي مهمات مختلف النوع و مواد خوراکه به غنیمت گرفته شده است .

راپور مي افزاید ، درجریان این حمله یك توپ ۷٦ ملي متري ، دو عراده تانك و یك عراده موتر به آتش کشیده شده است .

مجاهدینو د . . .

کري او دتنګي دځوبغره ستراتیژیکه پوسته یې فتح کړي اوسخته مرګ ژوبله یې پکښي کړیده .

دربوټ مطابق مجاهدینو پدي بریالي حمله کي یوشمیر سپکي وسلي غنیمت کړي اویوطریه توپ ، درنده ماشیندار ، هاوان غرني او(وي ، سي) توپ یې چي نشو انتقال کولي په بونو الوزولي دي .

خبر ځاي دغه شان وویل چي مجاهدینو دکمونیست رژیم دثمرخیلو (۱۱) فرقي هوائي ډګر قطرغي ، ورونتیي او شیخ مصري او پرکتنو قرارګاه او (۸۱) غونډ دسختو درندو بریدونولاندي ونیول چي په نتیجه کښي داوراګان توغندي یوه دستګاه په فارم هډه کي داورلمبه کړي او زیات ځاني اومالي تاوان ئي درژیم قواؤته اړولی دي .

دربوټ مطابق دمجاهدینو څخه پدي بریدونوکي دثمرخیلو فرقي باندي دورختلو په وخت دري تنه مجاهدین شهیدان او څلور نور ټپیان شوي دي .

خبر ځاي په یوبل ربوټ کي زیاته کړه چي درژیم داوراګان دوه‌توغندي داکتوبر په ۱٦نیټه تورخم ته نژدي په لنډي خیبر غره کي ولګیدي خوولي هیڅ زیان یې ندي اړولي .

خبرځاي دغه شان دروداتو ولسوالي په حصارشاهي مرکز شاوخواکلو اودثمرخیلو په مرکزونو دجبت الوتکو بمباري ربوټ ورکړي خو دلارو دبندبدلو په اثر دعوامو خلکو دمرګ ژوبلي ربوټ ندي ورکړل شوي .

خبر ځاي وویل دجلال آباد په نظامي ځایونو باندي دخښځ ، جنوب اولویدیځ لوري دبرله یسي ګزارونو ربوټ ورکړي چي دتلفاتو دقیق شمیریي لاندي معلوم شوي .

خبرتیا

دجماعت علماي اسلام افغانستان اداره په نظرکي لري ، چي داسلامي تحریك دیوتن مؤسس ، نامتو مشر ، سترمجاهد اوجید عالم شهید مولوي صاحب حبیب الرحمن چي خپل حیات اوټوله کورنۍیې داعلاي کلمة الله په لارکښي قرباني ته وړاندي او په خپلو وینویې ددي روان مقدس جهاد پیل وکړ ، دهغوي دژوند ، مبارزي ، دعوت ، هجرت ، جهاد ، ګرفتاري ، زندان دشپو ورځو ، شهادت مړیستون (مدفن) اودهغوي ددیناري کورني په باره کي یومستند کتاب ترتیب اوچاپ کړي .

دا اداره په دي برخه کي مستند معلوماتو او روایاتو ته اړتیا لري .

هیله ده چي داسلامي تحریك متعهدین اوشهید مولوي صاحب مینه وال به خپل معلومات ، مشاهدات او خاطرات دمقالي په بڼه دجماعت علماي اسلام افغانستان اداري ته له خپل شهرت اوعکس سره وسپاري .

پته : شمشتو روډ ، وچ نهر ، نصرت مینه پوست بکس نمبره ١٤٦٥ .

عراق دجمعي په شپه ګواښ وکړچي که دترکیي پوځي الوتکي هم هغه راز دعراق دخاوري دننه خپلي حملي رواني وساتي په ځوابي عملیاتویه لاس پوري کړي

بغداد – دمیزان ۲۸

عراق دجمعې شپه ګواښ وکړ چي دترکیي پوځي الوتکي هم هغه راز دعراق دخاوري دننه خپلي حملي رواني وساتي په ځوابي عملیاتو به لاس پوري کړي .

دجمهوري اسلامي دخبري آژانس

دربوټ له مخي عراق دغه راز خبرداري ورکړ چي که دصهیونیستي رژیم پوځي الوتکي همغه شان دعراق دخاوري دپاسه خپلو الوتنو ته دوام ورکړي نودملګرو ملتونو دسازمان تسلیحاتي پلټونکو اودهغو په وړونکو هلیکوپترونو به ډزي وکړي .

دافغانستان دمعاصر جهادي دائـــرة المعارف خبرتیا

دافغانستان جهاد او هجرت دانسانیت په تاریخ کښي دیوځلانده ستوري حیثیت لري .

ددي جهاد وقائع اوحوادث باید دبشریت په تاریخ کي په زرینو تورو ولیکل شي .

دجهاد څرنګتو خدمتګارانو فیصله کړي (مخفه تردي چي دحوادثو مصادر وراك شي اویا زموږ دجهاد تاریخ دپردو په لاس ولیکل شي) دغه وقائع راټول اوثبت کړي ترڅوراتلونکو نسلونو ته په یادګار پاتي شي

تاسو ورویر څخه هیله کیږي زموږ سره ودي غښ هدف ته درسیدو دپاره همکاري وکړي په جهاد اوهجرت پوري متعلقه هره حادثه چي تاسي پخپله لیدلي اویا پوره موثوق معلومات لري ولیکي اوموږ ته یې راولیږي .

که مردجهاد اوهجرت په متعلق څه معلومات راټول کړي وي ، دجرایدو اومجلو اضافي کلیکسیونو ته درسره وي هغه موږ ته داستفادي په خاطر دمناسب قیمت په بدل کي اویا په امانت ډول وسپاري .

زموږ آدرس : دافغانستان جهادي معاصردائرة المعارف – حیات آباد – دوم فیز « ۱ – H » سرك (۱۱) منزل (۱۱۸) تیلفون (۸۱-۱٦٥) – پوست بکس – (١٣٦٤) صدر- پشاور.

یک مامور بلند پایه حزب کمونست شوروي انتحار کرد

صدای امریکا – ۲۸ میزان

یك مامور ارشد حزب کمونیست ولګاګراد واقع دربخش جنوب غرب فدراسیون روسیه خود کشي کرده است .

تاس آژانس خبری شوروی میگوید سرګی کلیموف در اپارتمانش خودرا حلق آویز کرد تفصیل بیشتر درزمینه ارائه نشده است .

کلیموف امر مساعی مفکوروی و طراح آیدیولوژی کمونیزم دربخش منطقوی حزب کمونیست ولګاګراد بود پس ازکودتای نافرجام ماه اګست علیه میخایل ګورباچوف رئیس جمهور شوروی فعالیت های حزب کمونیست اتحاد شوروی متوقف ساخته شد .

ازوقوع کودتا به بعد سه تن از اعضای بلند پایه، کمیته مرکزی حزب کمونیست با پرتاب کردن شان از عمارات بلند خود کشی کردند . هیچ یك از این اشخاص به کودتای نافرجام رابطه نداشتند اما بوریس چوګو وزیر داخله سابق و یکی از رهبران کودتا برای اینکه دستګیر نشوند با فیرګلوله انتحار کرد . سرګی اخرامیوف رئیس ارکان قوای مسلح اتحاد شوروی پس ازناکامی کودتا خودرا درمنزل اش به دار آویخت .

مجاهدینو د کمونیست . . .

ګولي ددوه ساعتو په موده کي چاودیدلي اوپه شاوخوا سیموبریوتي چي سخته مرګ ژوبله پکي شویده .

خبر ځاي زیاتوي مجاهدینو دسکر توغندیو اودرندوتوپونو پدي بریدونوکي دشروبي ولسوالي دژوراولکي په نوم دوه پوستي دکمونیستي قواؤ دمنګلو څخه آزادي کړي چي پکي یومجاهد شهید اودري تنه نورټپیان شویدي .

خبر ځاي دجلال آباد اوکابل ترمینځ دسروبي وربښمین تنګي کي دمجاهدینو لخوا دلوني لاري دبندولو او متقابلي درندي جګړي ربوټ ورکړیدي دغه شان پیښور کي یوبل خبر ځاي ربوټ ورکړي چي مجاهدینو داکتوبر په ۱۸ نیټه دسرخرود ولسوالي دشمشپورکلي دملیشه ؤ ستراتیژیکه پوسته چي ډرونتیي بند ته نژدي موقعیت لري فتح کړي ده .

خبر ځاي زیاتوي چي درژیم جیټ الوتکو دشنبي په ۸/۳۰ بجو سهار تورخم ته نردي دلنډي خیبر دمجاهدینو شاوخوا سیمي بمباري کړي چي پکي ځاني تلفات ندي رسیدلي خوولي دجیټ الوتکو دوړمي ورځي دبمباري څخه دشینوارو لوئي ولسوالي غني خیلو سیمه کښي وګړوته مالي تاوان رسیدلي دي .

خبر ځاي دجلال آباد په ثمر خیلو ، قطرغي ، سرخرود ، لغمان ولایت او دجلال آباد-کابل په لویه لاره دکمونیست رژیم په پاتي پوستو باندي دسکرتوغندیو او توپونو ډزي رواني او دجلال آباد ـ اوکابل لویه لاره دترافیکو پرمخ بنده ده .

دغه شان خبر ځاي په سروبي ، تورغر ، لغمان ، سرخرود اوجلال آباد په کمر بندي شاوخوا مرکزونو باندي دبمباري ربوټ ورکړي خو دتلفاتو په هکله لاربوټ ندي رارسیدلي .

دیروزانتخابات عمومي ترکیه برګزارکردید

دیروز مردم ترکیه براي شرکت در انتخابات عمومي آن کشور به پاي صندوق هاي رأي رفتند و آخرین نظر سنجي ها حاکیست که حزب مادر وطن وابسته به رئیس جمهور اوزال نتوانست به اکثریتي دست یابد . درحال حاضر اکثریت رأي دهندګان ترکیه ازحزب میانه رو آنکشور به رهبري سلیمان دیمرل پشتیباني میکند که درګذشته شش بار صدراعظم ترکیه بوده است

ولي به اساس نظر سنجي ها وي شاید نتواند به اکثریت مطلق دست یابد و درنتیجه حکومت ترکیه احتمالاً ائتلافي خواهد بود .

د کابل رژیم د ادعا . . .

درژیم په پرتو نظامي تاسیساتو باندي ددرندو وسلو ډزي پیل کړي خو دجګړي ددوام په نسبت پدي باب څه تفصیل ندي ورکړ شوي .

دغه راز دمجاهدینو خبر ځایونه دجلال آباد په ښار اوشاوخوا سیموکي درژیم په مرکزونو اوپوستو باندي ددرندو وسلو ډزو ددوام ربوټونه ورکړي دي ، چي پکي دښمن ته زیات ځاني زیان اوړیدلي دي .

دربوټ مطابق درژیم جنګي الوتکو دمجاهدینو دبریدونو په مقابل کښي پرون داکتوبر په ۱٦ دثمر خیلو ، سرخ دیوال اوحصارشاهي مختلفي سیمي بمباري کړي چي پکښي د مجاهدینو دوه ؤاټسن ګاډي ویجاړ خو ځاني زیان یې ندي رسولي .

مجاهدین دو پوسته . . .

محل مذکور ازبیم حملات متقابل رژیم اعم اززن ومرد وموسفیدان خانه هاي خوډ را دردوشي تخلیله وبه ولسوالي نهرین هجرت نموده اند .

طبق یك خبر دیگر مجاهدین بتاریخ شب ١٤ اکتوبر با احراز کمین درمنطقه، دشت آبدان ولسوالي امام صاحب درولایت کندز (٥) نفر ازملیشه هاي قوماندان رحیم پهلوان را هلاك ویك تعداد دیګرلمجروح نمودند

۲٤ نفر از ملیشه . . .

هاي ثقیل ودوربرد بر مراکز نظامي رژیم کابل درمناطق قلعه ملبکي ها وپل بازارك ولسوالي زنده جان ولایت هرات عملیات نمودند که درنتیجه ۸ تن ازافراد نظامي رژیم هلاك ، وتعدادي زخمي ودوعراده موتر نظامي به آتش کشیده شده است .

همچنان مجاهدین بتاریخ ۱٦ اکتوبر بالاي پوسته هاي رژیم ملحد کابل درقراي ده کشك وجات ولسوالي پشتون زرغون ولایت مذکور عملیات تعرضي نمودند که درنتیجه قراي مذکور ازتسلط ملحدین آزاد ، تعدادي ازعساکر وملیشه هلاك ویا زخمي ګردیده وخسارات زیاد مالي وجاني بدشمن وارد ګردیده است .

طبق راپور مجاهدین طي این نبرد یکتعداد اسلحه ومهمات رابه غنیمت ګرفته اند .

میدان هوائي کابل . . .

بي ایم(۱۳) ازبین رفته است .

همچنان طي این حملات که براساس فیصله، شوراي قوماندانان ولسوالي بګرامي صورت ګرفت پوسته هاي ملنګ و زندان متحمل تلفات وسیعي شده و اکنون عاري ازپرسونل میباشد .

همچنان در بند غازي چکري یك دیپوي مهمات بي ام ۱۳ آتش ګرفته که ازساعت ۷ صبح تا ساعت ٦ شام دود و شعله هاي آتش همراه با انفجارات خوفناك ازآن بلند میشد .

په نیول شوي فلسطیني سیمو کي د اسلامي تحریك « حماس » لاربښود شیخ احمد ته په یوه اسرائیلي محکمه کي د عمري بند سزا ورکول شوه وروسته اخباري قاینده ګانو سره خبري اتري کوي

اعلان

نظر به تصاویب شوراي عالي پوهنتون دعوت وجهاد فارغان قبل ازسال ١٣٦٤ طب کابل و ننګرهار که سن کمتر از ٤٠ سال را داشته باشند میتوانند بعد از اکمال شرایط در کدر پوهنځي طب و دندان پوهنتون مذکور شامل شوند . شرایط در مدیریت تدریسي موجود است . قابل یاد آوري است ، دکتوران متخصص ازقیود سال فراغت و سن مستثني قرارداده شده .

همچنان پوهنځي طب ودندان بیك تعداد استاداتیکه سابقه تدریسي و یا تخصص در رشته خویش داشته باشند ضرورت دارد .

لهذا استادان و متخصصین که چه بصورت دایمي وچه بصورت پارت تایم میخواهند درپوهنځي طب ودندان پوهنتون دعوت وجهاد وظیفه استادي را اجرآ نمایند خواهش میشود که درخواستهاي خویشرا بمدیریت تدریسي پوهنځي طب بادرنظرداشت شرایط تقدیم نمایند .

تاجکستان او . . .

دنورو جمهوریتونو په څیر نامعلوم لوری ته په حرکت کښی دی . اکثره روسان په دغه جمهوریت کښی د خپل ژوند امکانات نه وینی اوډ تېښتی په حال کښی دی اوله هغوته زیاتره په دی نظردی چی د ملی او اسلامی ځواکونو پیاوړتیا کیدای شی له دوی څخه دانتقام اخیستلو لاملونه برابر کړی ښه داده چی هغوی له دی سیمی نه خپلی پښی وباسی ځودسیمی د کمونیستانو سرنوشت یې په برخه نشی . کوم روسان اواوکراینیان چی له تاجکستان نه تللی وائی چی هغوی داسی ځواکسنه مفکوره د زړغونیدو په حال کښی لیدله چی دهغوی دله مینځه وړلو له پاره بس وه .

د تاجکستان د خلکو په ورو ستیو پاڅونونو کښی د اسلامی ځواکونو بریالیتوب دا امیدونه نورهم زیات کړل چی بنایی دغه دول مبارزی د مرکزی آسیا په نورو جمهوریتونو کښی هم پیل شی اود اسلامی حکومتونو د جوړیدو مقدمات برابر کړی .

همدا اوس غربی خبریالان له سیمی څخه داسی رپوټونه ورکوی چی په تاجکستان کښی اسلامی خوځښتونه د پیاوړتیا په حال کښی دی او مسلمانان د یو اسلامی حکومت د جوړیدو تکل کوی . یوی امریکایی ورځپانی « بالتیمورسن » په خپلی یوی ورروستی ګڼه کښی د اسلامی نهضت د ګوند محمد شریف همت زاده له خولی ولیکل : « دری اویاکاله خلك له دین نه لری وساتل شول ، ویرکم خلك د اسلام په هکله معلومات لری . هرمسلمان په دی هیله دی چی اسلامی حکومت دی ولری اوداپوختمی کاردی » .

اکثره مبصرین په تاجکستان کښی دمسلمانانو وینښیا د افغانانو جهاد پولی داځکه چی دغه جمهوریت د افغانستان دشمالی ولایتونو په ګاونډ کښی پروت دی اوددغی سیمی له خلکو سره ګډ ثقافتی اودینی اړیکی لری . بالتیمورسن ورځپانه په خپل یوبل رپوټ کښی د اسوشیدت پرس د آژانس په حواله لیکی : « د کمونستانو له پرغل سره سره اوس داسی عقیدی په دغی سیمه کښی دزرغونیدو په حال کښی دی چی دوریښمو پخوانی لرغونی لار سړی ته وربه یادوی . دشوروی دمنګولو په مستبدو سره پخوانی عقیده « پان اسلامیزم » په مرکزی آسیا بالخصوص په تاجکستان ، ازبکستان اوترکمنستان کښی د ځواکمنه کیدو په حال کښی ده . همغو کمونیستانو چی ددین او مدنیت په مقابل کښی به یې مبارزه کوله اوس د خلکو غوښتنوته غاړه ږدی اوهغوی سره ملګري کیږي .

تاجکستان چی یو غرنی جمهوریت دی ، له افغانستان سره ګډی پولی لری او ۹۰ په سلو کښی اوسیدونکی یې مسلمانان دی » .

همدا اوس اوس قاضی توره جان زاده او د مسلمانانو نور مشران په تاجکستان او ازبکستان کښی په دی عقیده دی چی کولای شی د مرکزی آسیا په سیاستونو کښی یو خپلواك رول ولوبوی . توره جان زاده په تاجکستان کښیْ د کمونیستی حاکمیت د بیا برقرارولو له پاره د کمونیستانو کوششونه د هغه شمار سره تشبه کړل چی د مرګ په حالت کښی د ژوندی پاتی کیدو له پاره هڅه او هلی ځلی کوی . په هرحال داسی ښکاری چی د تاجکستان راتلونکی د اسلامی ځواکونو په لاس کښی دی داځکه چی دتجدد اسلامی ګوند په لری پرتو سیمو کښی زیات پلویان لری او ددغه جمهوریت د ټول نفوس په سلو کښی ۷۰ په‌لری‌پرتو‌اوکلیوالوسیمو‌کښی‌ژوند‌کوی .

یوه بله موضوع چی تاجکان یې زیات تر اغیزی لاندی راوستی د ژبی موضوع ده . اوژبه کولای شی د یوملت په سیاسی اودینی کرو وروکښی ډیر ستر اومهم رول ولری . اوس چی په تاجکستان کښی تاجکی ژبه چی فارسی ژبی ته زیات ورته والی لری رسمیت موندلی ددغه جمهوریت اکثره اوسیدونکی اوبوهان په دی هڅه اوهاند کښی دی چی ددغی ژبی په لیك دود کښی دی له عربی الفبا، نه کار واخیستل شی اوله حکومت نه غواړی چی دهغه د تعمیم په لارکښی هردول امکانات په کار واچوی .

په تاجکستان کښی چاپیدونکی اونیزی « ادبیات اوصنعت » په خپلی یوی وروستی ګڼه کښی په دی هکله یو مطلب چاپ کړی اودهغه په ترڅ کښی لیکی : د کمونیستانو دواکمنی په دوران کښی په تاجکی فارسی ژبه باندی د روسی ژبی زیاته اغیزه پریوته اوددی اغیزی د لری کولو له پاره پرته له دی چی عربی رسم الخط نه استفاده وکړو بل هیڅ قانون اوتګلاره نشی کولای نشی دغه ژبه له اوسنی بحران څخه وژغوری .

د مطلب لیکوال مسرور عبدالله زیاتوی کوم ملت چی د ځان ساتنی احساس له لاسه ورکړی له خپل ژوند څخه دی لاس ووینځی . کوم ملت چی پرده‌یو احاطه کړی وی اوله خطروتونه سترګی پټی کړی په حقیقت کښی یې خپل هویت بایللی دی .

که چیری تاجکی فارسی ژبه او عربی رسم الخط یوځل بیا په تاجکستان کښی عمومیت پیداکړی نو دا موضوع کولای شی د افغانستان او ایران له مسلمانانو سره ددغه جمهوریت د مسلمانانو اړیکی نوری هم ټینګی کړی اویا هغه وخت به په دغی سیمی کښی د اسلامی تعالیمو او افکارو د خورولو له پاره ډیره ښه زمینه برابره شی .

په آخرکښی دی نتیجی ته رسیږو چی په تاجکستان کښی وروستی بدلونونه اود دولتی سترو مقاماتو استعفاګانی ، او بالآخره له دغه جمهوریت نه د روسانو تیښته داپه ګوته کوی چی په دغه سیمه کښی اسلامی حرکتونه پرځواکمن شوی او اوس اکثره مسلمانان دهغو خواته ودریږی اود اسلام د بیا احیا، له پاره ګډه مبارزه په مخ بیایی .

لیکه‌اوژباړه : محمدنصیر « مدثر »

پته :

پیښور - پاکستان

P.O.BOX---- 467

ماحکومت مختلط وبیطرف راخلاف اسلام دانسته وآنرا ردمیکنیم .

استاد « سیاف »